# اندېښ شمس القمر او د هغهٔ ياد


سایل

د هر لوئي شاعر يو انفراديت يعنې يو ځانګړے ستايل وي. هر ښه شاعر د خپل خارج نه مواد رااخلي د اندرون په رنګونو کښې ئې ډوبوي. او بيا ئې خارج ته سپاري. د اندېښ په زړهٔ او ذهن د يو پښتون په حيثيت او په خيال ئې د باچاخان د فکر و عمل او افکارو د خيال سيوري رپېدل. د مفاداتو په دې دنيا کښې او ذاتي مفاداتو دپاره د کار نه د تښتېدونکو او بيا راتلونکو دپاره هغهٔ په يو وخت کښې دا شعر ليکلے ؤ چې :

د دې ژوندون د ګلزارونو د سپرلو په امېد
ډېر لاړو راغلو خو په ځانګه ستا د خيال کېناستو

د باچاخان سره د هغهٔ د مينې دا حال ؤ چې د هغهٔ تصور ئې د غزل په تصوير کښې ځائې کړے ؤ. دا د اندېښ د هنر کارئے هغه انداز ؤ چې د بل چا په وس کښې شايد چې نهٔ ؤ. هغهٔ ته يقين ؤ چې که هر طرف ته ,,لاړ شو،، ,,راشو،، يو ځل به د دغې سرې د خيال په ځانګه کېنو!!

کله چې د باچاخان جنازه د پېښور نه ننګرهار ته لاړه نو هغهٔ په دغو تازه ورځو کښې دا شعر ليکلے ؤ چې :

زهٔ خو د ژوند د لارې هغې سرته اورسېدم
تهٔ چرته پاتې شوې اشنا زهٔ چرته اورسېدم

اندېښ د باچاخان د ژوندي روح لخوا چې کوم سوال په ځان کړے دے چې زهٔ خو د ژوند د لارې هغې سرته اورسېدم. نو يو دا چې هغهٔ دغه سوال په اندېښ نهٔ دے کړے په هر پښتون ئې کړے دے. او په دې سوال کښې هغهٔ د يوې صدۍ د جدوجهد يوه قصه کړې ده. او دغه قصه ئې نيمګړې ګڼلې ده ځکه چې هغهٔ د دويمې مصرعې په سوال کښې وائې چې تهٔ چرته پاتې شوې اشنا زهٔ چرته اورسېدم. د چرته پاتې مطلب هم دا دے چې دا قصه به پوره کول غواړې. او د اندېښ فن او هنر د کتو دے چې يوه ازغنه موضوع او واقعه ئې د روماني ګلونو په حسن کښې نغښتې د غزل په شونډو سندره کړې ده. اندېښ په ۸ مارچ سترګې پټې کړې او په ۹ مارچ خاورو ته اوسپارلے شو.

اندېښ زمونږ د ادبي زمانې د نوي دور يو داسې نوم دے چې که ليک ته زمونږ ادبي دنيا واپس راغله نو دے به د علامت په طور زمونږ د شعر په دنيا کښې موجود وي. اندېښ چې پښتانه او پښتو ژبه ئې ټول عمر وظيفه وه نن د يو کتاب مالک هم دے. خو په دغو پښتنو کښې هغه نن هم ګمنام دے. دا شايد چې د پښتنو د بې وسئ او بې هځئ د ټولو نه ئې دليل دے.

ډېره موده اوشوه چې نهٔ ښکارې اندېښه ولې
زهٔ په دارو پسې د درد د ځيګر تلے يمه